مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ٢٦٣** (از ١٣ الی ٢٠ اسد ١٣٩٧ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ٢

**انتخابات ریاست جمهوری ١٣٩٨هـ ش و چالش‌های پیشروی آن**

انتخابات ریاست جمهوری ........ ۴

آیا انتخابات ریاست جمهوری برگزار خواهد شد؟ ........ ۵

نتیجه‌گیری ........ ٦

**کانکور او د افغانستان د لوړو زده‌کړو وضعیت**

کانکور؛ د شفافیت په لور ........ ٩

افغانستان کې د پوهنتونونو وضعیت ........ ١٠

د لوړو زده‌کړو سیستم مو څه ته اړتیا لري؟ ........ ١١

## مقدمه

د ټاکنو خپلواک کمیسیون داسې مهال د ۱۳۹۸ کال د وري میاشتې ۳۱مه د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو نېټه اعلان کړه، چې د روان لمریز کال په تلې میاشت کې د ولسي جرګې او ولسوالیو شوراګانو د ټاکنو برخلیک، لا هم له ننګونو سره مخ دی. که څه هم د راروانو ټاکنو په تړاو د سیاسي ګوندونو، حکومت او د ټاکنو کمیسیون پنځه ګډې غونډې هم وشوې؛ خو لا هم د امنیتي ستونزو ترڅنګ، د راروانو ټاکنو د روڼتیا په تړاو د سیاسي ګوندونو مخالفت او ورته نورې ننګونې پر ځای پاتې دي.

د ولسمشرۍ د ټاکنو نېټه هم وروسته له هغه اعلان شوه، چې یو شمېر سیاسیونو د ټاکنو روان بهیر وننګاوه او له حکومته یې د دغه بهیر د لغوه کولو غوښتنه وکړه. د دې ترڅنګ ډېر ځله داسې اوازې هم خپرې شوې، چې د ملي یووالي حکومت، د اوسنۍ دورې د مودې غځولو په هڅه کې دی، چې له کبله یې ولسمشر د ټاکنو له کمیسیون څخه د ولسمشریزو ټاکنو د نېټې د اعلان غوښتنه وکړه. دا چې د راتلونکي لمریز کال ټاکنې څومره شونې او عملي دي او پر وړاندې یې څه ستونزې او ننګونې شته دي، په اړه یې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې هم د سږ کال د کانکور ازموینې په اړه لولئ. تېره اوونۍ د ۱۳۹٦-۱۳۹۷ کال د کانکور ازموینې پایلې اعلان شوې، چې له مخې یې د دغې ازموینې له شاوخوا ۱٦۰ زره ګډونوالو څخه ٦۱ زره یې د لوړو زده‌کړو مؤسساتو ته جذب شوي دي. دا چې د سږ کال کانکور ازموینه څه ډول ترسره شوه؟ په ټولیز ډول په افغانستان کې د لوړو زده‌کړو وضعیت په کوم لوري روان دی؟ او د دغه مهم او حیاتي سکتور د وضعیت ښه کولو لپاره څه کول پکار دي؟ هغه پوښتنې دي، چې د تحلیل په دې برخه کې یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش و چالش‌های پیشروی آن



کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان به تاریخ ۱۰ اسد سال جاری خورشیدی، ۳۱ حمل ۱۳۹۸ هـ ش را زمان برگزاری انتخابات ریاست جمهوری اعلام کرد. داکتر عبدالبدیع صیاد رئیس کمیسیون مستقل انتخابات در کنفرانس مطبوعاتی‌ای، اظهار داشت که تاریخ مذکور از سوی کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان بر بنیاد قانون اساسی و قانون انتخابات، بررسی ابعاد مختلف عملیاتی، مالی، اداری، امنيتي و وضعیت اقلیمی کشور، در مشوره با نمایندگان احزاب سیاسی، فعالان جامعه مدنی و نهادهای ناظر انتخابات، تعیین شده است.

تاریخ برگزاری انتخابات ریاست جمهوری در حالی از سوی کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان مشخص می‌گردد که با تأخیر سه سال در انتخابات پارلمانی، هم اکنون مصروف آمادگی‌های برگزاری آن است. با آنکه ۲۰ اکتوبر سال ۲۰۱۸ تاریخ برگزاری انتخابات پارلمانی تعین شده است؛ اما هنوز هم به سبب موجودیت چالش‌های امنیتی، مخالف‌های اجزاب سیاسی و اتهامات موجودیت تقلب و جعل، سرنوشت آن روشن نیست.

در این تحلیل روی انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش، چالش‌های موجود در برابر این پروسه و اینکه حکومت وحدت ملی با چه سرنوشتی روبرو خواهد شد؟ از موضوعاتی اند که مورد بحث خواهیم گرفت.

## انتخابات ریاست جمهوری

بر بنیاد مادهٔ ٦١ قانون اساسی افغانستان، رئیس جمهور با کسب اکثریت بیش از پنجاه درصد آرای، رأی دهندگان از طریق رأی گیری آزاد، عمومی، سری و مستقیم انتخاب می‌گردد. وظیفهٔ رئیس جمهور در تاریخ اول جوزای سال پنجم، بعد از انتخابات پایان می‌یابد و انتخابات به منظور تعیین رئیس جمهور جدید در خلال مدت سی الی شصت روز، قبل از پایان کار رئیس جمهور برگزار می‌گردد.

حکومت وحدت ملی که در پی نفس‌گیرترین انتخابات ریاست جمهوری ۲۰۱۴م روی کار آمد، بالآخره با تمام مشکلات و دار و ندار خویش در آخرین سال دورهٔ کاری خویش قرار دارد و مطابق قانون اساسی افغانستان، به تاریخ اول جوزای سال ۱۳۹۸هـ ش به گونهٔ رسمی، مدت کاری آن به پایان می‌رسد و نیاز است که با برگزاری انتخابات، رئیس جمهور جدید روی کار آید.

رئیس جمهور غنی در دورهٔ ریاست جمهوری کنونی خویش، بارها گفته است که انتخابات ریاست جمهوری مطابق قانون اساسی افغانستان، به وقت تعیین شدهٔ آن برگزار خواهد شد. در آخرین مورد نیز رئیس جمهور غنی در پنجمین سمپوزیم ملی زنان، یک بار دیگر تأکید کرد که در اول جوزای سال ۱۳۹۸هـ ش وظیفهٔ او به پایان می‌رسد و مطابق قانون اساسی افغانستان، برگزاری انتخابات ریاست جمهوری یک امر حتمی است.

با این همه در حالی که رئیس جمهور غنی در مورد برگزاری انتخابات پارلمانی نیز همچون بارها تأکید کرده بود؛ اما مردم افغانستان شاهد سه سال تأخیر در برگزاری آن بودند. هرچند با گذشت سه سال تأخیر در برگزاری انتخابات پارلمانی، بالآخره حکومت افغانستان توانست در روزهای نخست سال ۱۳۹۷هـ ش، ۲۸ میزان سال جاری را به حیث تاریخ نهایی برگزاری انتخابات پارلمانی اعلام کند. با آنکه کار عملی تطبیق این پروسه جریان دارد؛ اما در حال حاضر با درنظر داشت وضعیت امنیتی کشور، اختلافات سیاسی میان احزاب و حکومت، موجودیت انتقادها بر میکانیزم برگزاری انتخابات، فساد اداری و جعل در این روند، هنوز هم سرنوشت انتخابات پارلمانی معلوم نیست.

## آیا انتخابات ریاست جمهوری برگزار خواهد شد؟

کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، تاریخ برگزاری انتخابات آیندۀ ریاست جمهوری را مشخص کرد و حکومت نیز در حالی که کشور از نگاه وضعیت امنیتی، سیاسی و حتی اقتصادی در یک حالتی بدی قرار دارد، از آن استقبال نمود؛ اما پرسش این است که در مدت کمتر از یک سال - در حالی که تا هنوز سرنوشت انتخابات پارلمانی روشن نیست- آیا ممکن خواهد بود که حکومت افغانستان مطابق قانون اساسی کشور، در وقت تعیین شده، انتخابات ریاست جمهوری را انجام دهد؟

در این باره، با در نظر داشت چند نکتۀ ذیل، برگزاری انتخابات ریاست جمهوری سال ۱۳۹۸هـ ش به تاریخ ۳۱ ماه حمل، عملاً ممکن به نظر نمی‌رسد:

**وضعیت امنیتی:** ناامنی یکی از چالش‌های بزرگی در برابر انتخابات آیندۀ ریاست جمهوری افغانستان است. در حال حاضر بر بنیاد گزارش اخیر ادارۀ سیگار، بیش از ۴۲ درصد خاک افغانستان تحت کنترول یا نفوذ مخالفین مسلح دولت افغانستان قرار دارد. از سوی هم با روی کار آمدن حکومت وحدت ملی، بخصوص در دوسال اخیر، تهدیدات امنیتی از سوی گروه داعش نیز شدت یافته است. این گروه در ماه های اخیر علاوه از ارگان های نظامی، چندین بار ادارات عامه و غیر نظامی، مکاتب و مساجد را نیز هدف حملات خونینی خویش قراردادند. در آخرین حملۀ این گروه که در مرکز ولایت پکتیا در مسجدی بر نماز گزاران صورت گرفت، بیش از۱۲۰ تن در آن کشته و زخمی شدند.

**بودجه:** با آنکه به گفتۀ کمیسیون انتخابات تا کنون برای برگزاری انتخابات ریاست جمهوری آینده، بودجۀ مشخصی در نظر گرفته نشده است؛ اما در زور اعلام رسمی تاریخ برگزاری انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸هـ ش، عبدالبدیع صیاد رئیس کمیسیون انتخابات، اظهار داشت که در زمینۀ تمویل بودجه انتخابات خواهان همکاری جامعۀ جهانی و حکومت است.

حکومت افغانستان گفته است که تمام امکاناتی دست داشته خویش را در دسترس کمیسیون مستقل انتخابات قرار خواهد داد. از سوی هم در زمینۀ پرداخت بودجۀ انتخابات ریاست جمهوری هرچند کشورهای کمک کننده وعده سپرده اند که حاضر به پرداخت هزینۀ انتخابات اند؛ اما تأکیدن دارد که آنها باید از حیف و میل شدن این پول ها اطمینان حاصل کنند. در شرایط کنونی این مسئله نیز یکی از مشکلات جدی پنداشته می‌شود، چون هنوز هم یکی از مشکلات اساسی حکومت افغانستان وجود فساد اداری به شمار می‌رود.

**سرنوشت انتخابات پارلمانی:** چگونگی برگزاری انتخابات پارلمانی، تأثیرات مستقیم بر انتخابات ریاست جمهوری دارد. در حالی احزاب سیاسی کشور حکومت را بر مداخله در کار کمیسیون ها متهم می کند و نیز میکانیزم کنونی برگزاری انتخابات را قبول ندارند، اگر کمیسیون مستقل انتخابات با موجودیت این همه نتواند انتخابات پارلمانی را به وقت تعیین شده و بدون کشمکش‌ها برگزار کند، احتمال زیادی از عدم قادر بودن این کمیسیون در رابطه به برگزاری انتخابات ریاست جمهوری نیز وجود دارد.

## نتیجه‌گیری

با در نظر داشت چگونگی برگزاری انتخابات ۲۰۱۴م که بعد از جنجال های طولانی، با تأخیر حدود چهار ماه برگزار شد، تأخیر سه ساله در انتخابات پارلمانی که هم اکنون پروسهٔ تطبیق برگزاری آن جریان دارد و مشکلاتی که در فوق ذکر نمودیم، برگزاری انتخابات ریاست جمهوری به وقت معین آن قابل اجراء نخواهد بود.

رویارویی‌های اخیر برخی احزاب سیاسی و حکومت افغانستان، باعث وخیم شدن اوضاع سیاسی کشور شده است. احزاب سیاسی خواهان تغییر نظام انتخاباتی، لغو روند ثبت نام رأی دهندگان و کارگیری از شیوهٔ بایومتریک برای ثبت نام رأی دهندگان اند. اگر وضعیت همچون ادامه پیدا کند و حکومت بالآخره مجور به قبول کردن خواسته های این احزاب شود، برگزاری انتخابات به تاریخ اعلام شده ممکن نخواهد بود، چون پوره کردن این همه خواسته نیاز به وقت و بودجهٔ کافی دارد که حکومت افغانستان در این مدت کم، قادر به پوره کردن آن نخواهد شد.

از سوی دیگر مسئله گفتگوهای صلح با طالبان که در این اواخر بیشتر از هر زمانی دیگر گرم تر شده است، در برگزاری و عدم برگزاری انتخابات ریاست جمهوری آینده، مورد مهمی دیگر پنداشته می شود. چون اگر گفتگوهای صلح با طالبان به شکل کنونی به پیش برود، احتمال آن است که انتخابات ریاست جمهوری آینده به تاریخ اعلام شدهٔ کمیسیون مستقل انتخابات، برگزار نگردد و زمان حکومت وحدت ملی تا نتیجهٔ گفتگوهای صلح با طالبان تمدید شود؛ اما در صورتی که گفتگوهای صلح به نتیجهٔ برسد، احتمال دارد که حکومت موقت اعلام گردد و تلاش فراهم کردن زمینه برای انتخابات صورت گیرد، تا بعد از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، نظامی جدیدی روی کار آید.

علاوه بر این همه، اگر در شرایط امنیتی و سیاسی جاری درکشور، بدون تأمین امنیت و با عدم در نظر داشت مصلحت های سیاسی در کشور، حکومت به خواست و همکاری کشورهای خارجی، انتخابات ریاست جمهوری را بالآخره به یک نوعی سمبولیک برگزار کند، ممکن تجربۀ انتخابات ۲۰۱۴م دوباره در افغانستان تکرار گردد و کشور داخل یک بحران جدی دیگر شود. پایان

# کانکور او د افغانستان د لوړو زده کړو وضعیت




د ۱۳۹۷هـ ش کال د کانکور آزموینې پایلې د روان کال د اسد میاشتې په لسمه نېټه اعلان شوې. په دغه آزموینه کې نږدې ۱٦۰ زره کسانو برخه اخیستې وه، چې له دې ډلې ٦۰ زره او ۵۱ تنه لوړو زده کړو او ۱۲ زره او ۴۹۸ تنه یې نیمه لوړو زده کړو ته بریالي شول.

د لوړو زده کړو وزارت د معیار پر بنسټ، د لوړو زده کړو بنسټونو ته د کامیابۍ معیار ۱۵۰ نومرې او نیمه لوړو زده کړو ته بیا ۱۴۰ نومرې ټاکل شوې دي، چې له مخې یې په سږني کانکور کې شاوخوا ۱۹ زره کسان ناکام شوي دي. دغه راز په سږني کانکور کې شاوخوا ٦٦ زره کسانو د کامیابۍ نومرې اخیستې دي؛ خو د خپل انتخاب له امله یې دولتي پوهنتونونو ته لار نه ده موندلې. د وزارت په وینا، دغه راز کسان خصوصي او د نیمه لوړو زده کړو دولتي بنسټونو کې د جذبېدو په شرایطو برابر دي.

د کانکور په دغه آزموینه کې د درغلیو په اړه په تېر کې راپورونه زیات وو؛ خو د ملي یووالي حکومت په راتګ سره د یادې پروسې د روڼتیا په موخه ځینې ګامونه واخیستل شول، چې له امله یې تر ډېره حده په دغه پروسه کې

روښتیا رامنځته شوه؛ خو له کانکور نه علاوه، د افغانستان د لوړو زده‌کړو بنسټونه لاهم له ګڼو ستونزو سره مخ دي.

په دغه تحلیل کې مو د کانکور د آزموینې، افغانستان کې د لوړو زده‌کړو بنسټونو د وضعیت او په دې برخه کې پر شته ننګونو او فرصتونو بحث کړی دی.

## کانکور؛ د شفافیت په لور

د کانکور آزموینه له پخوا په افغانستان کې دولتي پوهنتونونو ته د شاملېدو یوازینۍ لاره ده. دا هغه برخلیک ټاکونکې آزموینه ده، چې له لارې یې د هېواد د دولسمو ټولګیو زده‌کوونکي له فراغت وروسته دولتي پوهنتونونو ته د لوړو زده‌کړو په موخه ځانونه رسوي.

له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې په هېواد کې د نورو برخو په شان، دغه برخه هم د فساد په منګولو کې راګېر وه. د کانکور په کمیټه کې فساد، له اکاډمیکو معیارونو سره د ازموینې د پوښتنو نه مطابقت، په دغه پروسه کې د زورواکو او ځینو دولتي چارواکو لاسوهنې، د یوه شخص پر ځای د بل شخص ازموینه ورکول او نورې جعل‌کارۍ هغه څه دي، چې د کانکور په پروسه کې د شفافیت په تړاو یې تل د خلکو اندېښنې له ځان سره لرلې دي.

د ملي یووالي حکومت په راتګ سره د کانکور په ازموینه کې شفافیت او په دغه پروسه کې د فساد مخنیوی، د دې حکومت له مهمو لاسته راوړنو بلل کېږي. د ملي یووالي حکومت پر مهال د لوړو زده‌کړو وزارت په کانکور کې د درغلیو د مخنیوي لپاره په آزموینه  کې له نویو پرمختللو ماشینونو څخه کار واخیست، سیستم یې داسې رامنځته کړ، چې د پخوا په شان به د ګډونوالو پوښتنې سره ورته نه وې، د هر ګډونوال لپاره سیستم خپله پوښتنې چاپوي، پاڼې یې ترتیبوي او نومونه پرې لیکي.

له دې سره په پوره توګه دا هم نه شو ویلی، چې په دغه پروسه کې به فساد په بشپړه توګه صفر شوی وي؛ خو د تېر په پرتله په دغه آزموینه کې له نوي ټکنالوژۍ څخه په کار اخیستلو سره د نقل کولو او د بل چا پر ځای په کانکور آزموینه کې برخه اخیستل یا هم د پوښتنو وتل خورا ستونزمن شوي دي، چې له امله یې په دغه پروسه کې د شفافیت په اړه  د خلکو باور هم زیات شوی دی.

## افغانستان کې د پوهنتونونو وضعیت

له نن څخه پوره ۸٦ کاله وړاندې، په ۱۳۱۱هـ ش کال په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د لوړو زده‌کړو په برخه کې په کابل ښار کې د طب پوهنتون بنسټ کېښودل شو. دا بهیر تر ۲۰۰۱م کال پورې لکه څنګه چې لازمه وه، هغسې پرمخ نه دی تللی او لامل یې په هېواد کې جګړه او بې‌ثباتي وه؛ له ۲۰۰۱م کال وروسته په افغانستان کې د نوي نظام په را منځته کېدو او د عصري ټکنالوژۍ نه په کار اخیستلو سره، د نورو برخو په شان، په دې برخه کې د پام وړ بدلون راغلی دی.

په دې موده کې د نړیوالې ټولنې او بهرنیو هېوادو د میلیادونو ډالرو د مرستو له کبله، په افغانستان کې د لوړو زده‌کړو وضعیت د کمیت له اړخه ډېره وده وکړه. پر دولتي پوهنتونونو سربېره د لوړو زده‌کړو لسګونه خصوصي بنسټونو هم په کار پیل وکړ، چې اوسمهال په ټول هېواد کې ۳۲ دولتي او ۱۳۰ خصوصي د لوړو زده‌کړو بنسټونه فعالیت لري؛ خو په تېرو ۱۷ کلونو کې د ملیاردونو ډالرو پر مصرف سربېره، افغانستان لا هم د لوړو زده‌کړو په برخه کې د کیفیت له اړخه له ستونزو سره مخ دی، څنګه چې هیله کېده په هماغه کچه د کیفیت په ډګر کې د پام وړ تغییر نه دی راغلی.

له لویه سره جګړې او ناامنۍ د نورو برخو په شان د لوړو زده‌کړو برخه هم اغېزمنه کړې ده؛ خو په بل اړخ کې بیا د افغان دولت له لوري د لوړو زده‌کړو په برخه کې په معیار د برابرې ستراتېژۍ نه لرل، د لوړو زده‌کړو وزارت د مدیریت کمزورتیا، د تعلیمي نصاب زوړوالی او د اوسني عصر له اړتیاوو سره یې نه برابرښت، د لوړو زده‌کړو په بنسټونو کې د فساد موجودیت او د نظارت کمزورتیا، د مسلکي او علمي کادرونو نشتوالی، په پوهنتونو کې د څېړنې برخې ته نه پاملرنه او دې ته ورته نورې هغه ستونزې دي، چې په افغانستان کې یې د لوړو زده‌کړو معیار او کیفیت خورا را ټیټ کړی دی.

په پوهنتونونو کې د یادو او دې ته ورته نورو ستونزو موجودیت د دې لامل شوی، چې له دغو بنسټونو څخه فارغ شوي کسان په ټولنه باندې بوج شي، د کار او دندې زمینه نه وي ورته برابره، له ګڼو ستونزه سره مخ وي، او ډېره کله خپله همدا کسان، ټولنه کې نورو کسانو ته په سرخوږي اوړي.

## د لوړو زده‌کړو سیستم مو څه ته اړتیا لري؟

پوهنتون یا د لوړو زده‌کړو مرحله د هر ځوان لپاره د ښوونځي له ۱۲ کلنې دورې را وروسته يوه تخصصي دوره ده، چې د ده راتلونکی ورپورې تړلی دی. د زده‌کړو دغه دوره چې هرڅومره معیاري وي، هغومره به د محصلینو په راتلونکي باندې مثبت اغېز ښندي. په اوسمهال کې د افغانستان د لوړو زده‌کړو سیستم تر ډېره په هره برخه کې معیاري کېدو ته اړتیا لري، خو پوښتنه دا ده چې په کومو برخو کې او څنګه د لوړو زده‌کړو د معیاري کېدو لپاره کار کولی شو؟

په دې برخه کې لاندې څو ټکي د پام وړ دي:

- له هر څه وړاندې اړتیا ده، چې د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت په خپل مدیریتي سیستم کې اړین اصلاحات راولي او د لوړو زده‌کړو په برخه کې د شته ستونزو د حل په موخه یوه منظمه، هر اړخیزه او د تطبیق وړ تګلاره رامنځته کړي، ترڅو د هغې پر بنسټ ورو ورو په ټولو برخو کې اصلاحات رامنځته شي.
- د لوړو زده‌کړو لپاره اصلي بنسټ د ثانوي دورې زده‌کړې دي. د دې لپاره چې پوهنتونونو ته وړ او په معیار برابر کسان راشي، نو اړتیا ده چې د معارف په برخه کې د ښوونځیو د کیفیت او زده‌کوونکو د سویې د لوړوالي په موخه جدي کار وشي.
- د لوړو زده‌کړو په بنسټونو کې څېړنې او مطالعات د زده‌کړو د کیفیت په برخه کې خورا مهم رول لري. له بده مرغه په افغانستان کې دې برخې ته د لوړو زده‌کړو په بنسټونو کې ډېره پاملرنه نه کېږي. اړتیا ده چې په پوهنتونونو کې د دې برخې لپاره کار وشي، علمي او څېړنیزو بحثونو ته زمینه برابره شي، استادان د خپلو علمي ترفیعاتو په موخه د اړتیا مطابق او ریښتیني څېړنې وکړي، ترڅو د ځان او محصل په ګټه کار ترې واخلي.
- د زده‌کړو په برخه کې د تعلیم او تعلم د مډرنو وسایلو موجویت یو مهم او اغېز لرونکی اړخ دی، چې هم د استاد او هم د محصل پر سویه مستقیمه اغیزه کوي. اړتیا ده چې د لوړو زده‌کړو وزارت هڅه وکړي چې پوهنتونونه او نور د لوړو زده‌کړو علمي بنسټونه د الکترونیکي کتابتونونو په جوړولو سره مجهز کړي او دغه راز محصلینو ته د انټرنټ له لارې مهمو الکترونیکي کتابتونونو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.

- د نصاب د نویوالي لپاره هم جدي اړتیا لیدل کېږي، تر څو په پوهنتونونو کې محصلین د وخت له غوښتنو سره برابرې زده کړې وکړي او په عملي برخه کې د هېواد او ملت لپاره څه وړاندې کړي.
- د یو شمېر پورتنیو ټکو او په ټولیز ډول د لوړو زده‌کړو د نظام پیاوړي کولو لپاره کافي بودجې ته هم اړتیا ده او افغان دولت باید د بودجې له پلوه هم دغه سکتور ته خورا زیاته پاملرنه وکړي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com